# د حضرت صفنیاه نبی کِتاب ـ ماخذ انبیاء

## پېژندګلو

د حضرت صفنیاه په کِتاب کښې لیکلے شوی دی چې د مالِک خُدائ ورځ راروانه ده او دا ځکه چې کله خبره د ګناه راشی نو بیا د مالِک خُدائ د صبر یو حد دے. د مالِک خُدائ ورځ راروانه ده او په هغه وخت کښې به حساب کِتاب کیږی. نۀ صرف د یهوداه سره بلکې ټولو بُت پرستو قومونو له به هم خُدائ پاک سزا ورکوی. د حضرت یوسیاه بادشاه د بادشاهئ په دوران کښې حضرت صفنیاه پېشګوئې وکړه او په یهوداه کښې یې یو لوئ بدلون راوستو د دې نه مخکښې د منسی بادشاه په اوږد دور کښې لویه تباهی شوې وه. حضرت صفنیاه د لوټ مار او بدئ په حقله د خُدائ پاک د عدالت اعلان وکړو او د هغه منصوبې اعلان یې هم وکړو چې خُدائ پاک به یهوداه بحال کړی. هغۀ د مالِک خُدائ د ورځ کومه چې راتلونکې ده په حقله خبرې وکړې، یعنې هغه وخت کله چې به ګناه ته سزا ورکړے شی، او اِنصاف به فاتح شی او وفاداران چې کوم باقی پاتې وی هغه به بچ کړے شی. دا جمله د مالِک خُدائ ورځ مونږ بیا بیا په کِتاب مقدس کښې وینو چې په کښې د خُدائ پاک تاریخی راتلونکو فیصلو ته او د روزمحشر عدالت ته اِشاره کوی. د حفظ کولو دپاره صفنیاه ۳:۱۷ آیت "خُدائ پاک ستاسو مل دے، هغه طاقتور دے او تاسو به بچ کړی."

١ ۞ ١ د مالِک خُدائ کلام په صفنیاه نازل شو. صفنیاه د کوشی زوئ او کوشی د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جدلیاه زوئ، او جدلیاه د امریاه زوئ، او امریاه د حزقیاه زوئ وو، دا کلام په هغه
وخت نازل شو کله چې یوسیاه د امون زوئ د یهوداه بادشاه وو.

## د راتلونکې تباهۍ خبردارے

٢ ”زۀ به د زمکې د مخ نه هر یو څیز ختم کړم،“ مالِک خُدائ فرمائی. ٣ ”زۀ به بنی
آدم او ځناور دواړه ختم کړم، زۀ به د هوا مارغان او د سمندر کبان ختم کړم. د بدعملو
د کاڼو بُتان به تباه کړم او انسان به د زمکې د مخ نه ختم کړم،“ مالِک خُدائ فرمائی.
٤ ”زۀ به خپل لاس د یهوداه او د هغوئ ټولو خلاف وراوږد کړم څوک چې په یروشلم
کښې اوسیږی. زۀ به د دې ځائ نه د بعل د عبادت یادونه، د بُت پرستانو نومونه او بُت
پرسته اِمامان ختم کړم، ٥ هغه څوک چې په چتونو د نمر، سپوږمۍ او ستورو عبادت
کوی او هغوئ ته سجدې کوی، او په یو وخت کښې مالِک خُدائ ته سجدې کوی او د
هغۀ په نوم قسم خوری او هم په هغه وخت کښې د مولک بُت په نوم قسم خوری. ٦
او دا هم هغه خلق دی چا چې ما ته شا کړې ده او زما لټون نۀ کوی او نۀ زما لارښودنه
غواړی. ٧ د مالِک خُدائ په وړاندې خاموشه اوسه، ځکه چې د مالِک خُدائ د قیامت
ورځ نزدې ده. مالِک خُدائ یوه قربانی تیاره کړې ده، هغۀ هغه څوک مقدس کړی دی
چې هغۀ راغوښتی دی. ٨ د مالِک خُدائ د قربانۍ په ورځ به زۀ شهزادګانو او د
بادشاه زامنو له سزا ورکړم او هر هغه چا له چې د غیر قومونو جامې اچوی. ٩ په
هغه ورځ به زۀ هغوئ ټولو له سزا ورکړم څوک چې د بُت د عزت دپاره په درشل
وردانګی، د خپلو مالِکانو کورونه د ظلم او ټګۍ نه ډکوی. ١٠ په هغه ورځ،“ مالِک
خُدائ فرمائی، ”یوه چغه به د کب دروازې نه اوچته شی، د ښار د نوې حصې نه به
ماتم، او د غونډو نه به د ماتېدو آوازونه راځی. ١١ د غم فریاد وکړئ، تاسو ټول چې په
نوې ښار کښې اوسېږئ، ستاسو ټول سوداګر به جارُو شی، هغه ټول چې د سپینو زرو
روزګار کوی هغه به تباه شی. ١٢ زۀ به ډیوه په لاس ګوټ په ګوټ په یروشلم کښې
وګرځم. زۀ به هغه خلقو له سزا ورکړم چې په خپل ځان مطمئن دی، هغه څوک چې دا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سوچ کوی چې مالِک خُدائ به مونږ سره نۀ ښۀ کوی او نۀ بد. ١٣ د هغوئ مال دولت
به لوټ شی او د هغوئ کورونه به وران شی. هغوئ به کورونه جوړوی خو په کښې به نۀ
اوسيږی، هغوئ به د انګورو باغونه وکَری خو مے به ترې ونۀ څښی. ١٤ د مالِک
خُدائ د قيامت لويه ورځ رانزدې ده، ډېره نزدې ده او زر راتلونکی ده. غوږ شئ، د مالِک
خُدائ د ورځ ژړا به سخته وی، په هغه ورځ به ښۀ تکړه فوجيان هم چغې وهی. ١٥ هغه
به د غضب ورځ وی، د غم او مصيبت ورځ به وی، د تباهئ او بربادئ ورځ به وی، د
تورې تيارې او خړې ورځ به وی او د تکې تورې وريځې ورځ به وی. ١٦ د بيګل غږولو
او د جنګی نعرو ورځ چې د مضبوطو ښارونو خلاف او د لوړو برجونو خلاف به وی.
١٧ زۀ به په خلقو داسې مصيبتونه راولم چې هغوئ به د ړندو په شان ګرځی. ځکه چې
هغوئ زما خلاف ګناه کړې ده. د هغوئ وينه به د خاورو په شان تويه شی او د هغوئ
لاشونه به سخا شی. ١٨ د مالِک خُدائ د غضب په ورځ به نۀ د هغوئ سپين زر او نۀ به
د هغوئ سرۀ زر هغوئ ته خلاصون ورکولے شی. د هغۀ د غيرت په اور به ټوله دُنيا
وسوزيږی ځکه چې هغه به ناګهانه د هغوئ ټولو خاتمه راولی ځوک چې د زمکې په مخ
باندې اوسيږی.“

## توبه ويستل

٢ ١ اے بې‌شرمه قومه، يو ځائ راغونډ شئ، يو ځائ شئ، ٢ د دې نه مخکښې
چې مقرر وخت راشی او هغه ورځ مو لکه د بوسو په شان ورک کړی، د دې نه مخکښې
چې د مالِک خُدائ سخت قهر په تاسو نازل شی، د دې نه مخکښې چې د مالِک خُدائ د
غضب ورځ په تاسو راشی. ٣ مالِک خُدائ ولټوئ، اے د زمکې ټولو عاجزانو خلقو،
تاسو چې ځوک د هغۀ په احکامو عمل کوئ، صداقت ولټوئ، عاجزی ولټوئ. شايد چې
تاسو د مالِک خُدائ د قهر په ورځ پټ کړے شئ.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د بنی اِسرائیلو د دشمنانو خلاف قضاوت

۴ غزه به پرېښودلے شی او اسقلون به شاړ او ویجاړ پاتې شی. په نیمه ورځ کښې به
اشدود خالی شی او عقرون به د بېخ نه وویستلے شی. ۵ په تاسو دې افسوس وی
څوک چې د سمندر په غاړه اوسېږئ، اے د چریتیانو خلقو، د مالِک خُدائ کلام ستاسو
خلاف دے، اے کنعانه، د فلستیانو زمکې. زۀ به تا تباه کړم، او هیڅوک به باقی پاتې نۀ
شی. ۶ د سمندر غاړه به د شپونکو د څرن ځائ او د ګډو شپول وی. ۷ دا به د
یهوداه د پاتې شوی قوم په قبضه کښې وی، هلته به هغوئ ته د څرن ځائ مِلاو شی. په
ماښام کښې به هغوئ د اسقلون په کورونو کښې څملی. مالِک خُدائ د هغوئ خُدائ
پاک به د هغوئ غمخور وی، هغه به هغوئ بیا د غلامۍ نه واپس راولی. ۸ ”ما د موآب
بےعزتی او د عمونیانو پیغورونه واورېدل، چا چې زما د خلقو بےعزتی وکړې او د هغوئ
د مُلک خلاف یې دهمکیانې ورکړې. ۹ نو په دې وجه، زۀ ربُ الافواج د بنی اِسرائیلو
خُدائ پاک، زۀ په خپل ذات قسم خورم، یقیناً موآب به لکه د سدوم په شان، او عمونیان
به لکه د عموره په شان شی. دا ځائ به د دربو او د مالګې په کندو بدل شی، او د همېشه
دپاره به شاړ ویجاړ شی. زما په خلقو کښې ژوندی پاتې به هغوئ لوټ کړی، زما د قوم
ژوندی پاتې به د هغوئ مُلک قبضه کړی.“ ۱۰ دا هغه څۀ دی چې دوئ ته به د خپل
غرور په بدله کښې او د مالِک خُدائ ربُ الافواج د قوم د بےعزتۍ او خندا په وجه مِلاو
شی. ۱۱ مالِک خُدائ به هغوئ ویروی کله چې هغه د ټولې دُنیا خُدایان کمزوری کړی.
د دُنیا ټول قومونه به د هغۀ عبادت وکړی، او هر یو به یې په خپل مُلک کښې کوی. ۱۲
”اے د ایتهوپیا خلقو، تاسو به هم زما په تُوره ووژلے شئ.“ ۱۳ هغه به خپل لاس اوږد
کړی د شمال خلاف او اسور به تباه کړی، نینوه به شاړ او ویجاړ کړی او لکه د صحرا
په شان به یې اوچ کړی. ۱۴ خاروی او رمې او هر قسمه مخلوق به هلته آرام کوی.
ګونګی به د دې د ستنو په سر کښې جالې جوړې کړی. د دوئ چغې به د کړکو نه دننه
راځی، ملبه به د دې په دُرشلونو کښې وی، خلق به د دې دِیار تیرونه وزغلوی. ۱۵ دا هم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه لاپرواه ښار دے چې په حفاظت کښې پروت وو. هغې خپل ځان سره ووئيل، ”زۀ د ټولو نه غټ يم، او زما نه علاوه بل نشته.“ هغې نه څۀ کنډر جوړ شو او د ځنګلی ځناورو جاله شوه. هر هغه څوک چې په هغې تېرېږی نو ورپورې به مسخرې کوی او د يرې نه به توبې وباسی.

## د يروشلم مستقبل

۳ ۱ افسوس د ظالمانو په ښار چې سرکشه او ناپاکه دے. ۲ هغه د هيچا
تابعداری نۀ کوی، هغه تربيت نۀ قبلوی. هغه په مالِک خُدائ يقين نۀ کوی، هغه خپل
خُدائ پاک ته نزدې نۀ راځی. ۳ د دې آفسران غړمبېدونکی زمری دی، د دې
حکمرانان د ماښام ليوانو په شان دی، څوک چې تر سحر پورې خپل ټول ښکار خوری.
۴ د دې پېغمبران کبرژن دی، هغوئ غداران دی، د هغې اِمامان د مقدسو ځايونو
بې‌حرمتی کوی او د شريعت نافرمانی کوی. ۵ مالِک خُدائ په هغه ښار کښې دے
هغه صادق دے، هغه هيڅ بې‌اِنصافی نۀ کوی. هغه هر سحر اِنصاف کوی او هره ورځ
خپل اِنصاف قائم ساتی. خو بدعمله خلق هيڅ په شرم نۀ پوهيږی. ۶ ”ما قومونه ختم
کړل، د هغوئ قلعه ګانې مې تباه کړې، ما د هغوئ کوڅې ويجاړې کړې، په هغې کښې
څوک تګ راتګ نۀ کوی. د هغوئ ښارونه خالی شوی دی، هيڅ څوک به په کښې پاتې نۀ
شی، يو هم نه. ۷ ما ښار ته ووئيل، يقيناً به تۀ زما نه ويرېږې او زما تربيت به قبول
کړې. بيا به د هغۀ د اوسېدو ځائ تباه نۀ شی، لکه څنګه چې زما د هغۀ خلاف منصوبه
وه. خو د هغوئ اوس هم دا شوق دے چې هغه ټولې بدعملۍ چې کومې يې مخکښې
کولې وکړی.“ ۸ مالِک خُدائ فرمائی چې، ”په دې وجه ما ته انتظار وکړئ، په کومه
ورځ چې زۀ به ښکار ونيسم. ما فيصله کړې ده چې قومونه راغونډ کړم، بادشاهۍ
رايوځائ کړم، او خپل قهر او سخته غصه پرې نازله کړم. زما د غيرتی قهر په اور به
ټوله دُنيا وسوزی. ۹ بيا به زۀ د خلقو خبرې پاکې کړم، چې هغوئ ټول د مالِک خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نوم واخلی او اوږه په اوږه د هغهٔ خِدمت وکړی. ۱۰ د ایتهوپیا د سیندونو بل طرف نه
به زما عبادت کوونکی، زما خوارهٔ وارهٔ خلق، ما له نذرانې راوړی. ۱۱ په هغه ورځ به
تاسو د هغه ټولو خراب کارونو په وجه چې تاسو ما سره کړی دی ونهٔ شرمېږئ، ځکه
چې زهٔ به د دې ښار نه هغه خلق لرې کړم چې په خپل غرور خوشحالۍ کوی. تهٔ به بیا
کله زما په مقدس غر غرور ونهٔ کړې. ۱۲ خو زهٔ به په تا کښې خاکساره او عاجز خویه
خلق پرېږدم، څوک چې د مالِک خُدائ په نوم یقین کوی. ۱۳ د بنی اِسرائیلو ژوندی
پاتې خلق به غلط کار نهٔ کوی، هغوئ به دروغ نهٔ وائی، او نهٔ به د هغوئ په ژبه دوکه وی.
هغوئ به خوری څښی او آرام به کوی او هیڅ څوک به هغوئ نهٔ یروی.“

## د خوشحالۍ سندره

۱۴ سندرې ووایه، اے د صیون لورې، په زوره چغې ووهه، اے بنی اِسرائیله.
خوشحاله شه او په خپل پوره زړهٔ سره خوشحالی وکړه، اے صیون لورې. ۱۵ مالِک
خُدائ ستاسو سزا ختمه کړې ده، هغهٔ ستاسو دشمنان واپس کړل. مالِک خُدائ، د
اِسرائیل بادشاه، ستاسو مل دے، تاسو به بیا هیڅکله د څهٔ نقصان نه نهٔ یرېږئ. ۱۶ په
هغه ورځ به هغوئ یروشلم ته ووائی چې، ”یرېږه مه، اے صیونه، پرې نهٔ ږدئ چې ستا
لاسونه کمزوری پاتې شی. ۱۷ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک ستاسو مل دے، هغه
طاقتور دے او تاسو به بچ کړی. هغه به تاسو نه ډېر خوشحاله وی، هغه به تا په خپلې
مینې خاموش کړی، هغه به په تا په سندرو سره خوشحالی وکړی. ۱۸ زهٔ به هغوئ
ستاسو نه لرې کړم څوک چې د مقرر شوی اخترونو په وجه غمژن وُو نو دا به نور
ستاسو دپاره د شرم سبب نهٔ وی. ۱۹ په هغه وخت به زهٔ معامله وکړم هغوئ ټولو سره
چې په تا یې ظلم زیاتے کړے دے، زهٔ به ګوډیان بچ کړم او هغوئ به راغونډ کړم چې
څوک خوارهٔ وارهٔ شوی دی. زهٔ به هغوئ له عزت او جلال ورکړم، په هر مُلک کښې
چرته چې دوئ رسوا شوی وُو. ۲۰ په هغه وخت به زهٔ تاسو راغونډ کړم، په هغه وخت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به زۀ تاسو خپلو کورونو ته راولم. زۀ به تاسو ته د دُنیا په ټولو خلقو کښې عزت او جلال
درکړم، زۀ به تاسو ستاسو د خپلو سترګو د وړاندې بیا آباد کړم،“ مالِک خُدائ فرمائی.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.